د بشري هوساينې موسسه

Organization for Human Relief (OHR)

# ABADEI Project

# د ټولنې په کچه سوله، د شخړو هوارى او عدالت غوښتنې ورکشاپ ته ښه راغلاست!

# د ورکشاپ اهداف او مقصدونه

**اهداف**: د شخړې په اړه د ګډون کوونکو ظرفیت لوړول  او د ورځنیو شخړو پیژندل او ښه مدیریت کولو پوهیدل.

**مقصدونه** : ګډون کوونکي به د درسي ټولګي په اخیر کې وکولای شي چې:

د شخړو پیژندنه،  د شخړې کچه، د شخړې ریښې او د شخړې پړاونه  به وپیژنئ.

د شخړې تحلیل به در وپیژندل شي.

شخړه  به د شریعت له نظره او د شخړې حل لارې وڅیړل شي.

تاوتریخوال، ډولونه او د تاوتریخوالي لاملونه به یې وپیژنئ.

منځګړیتوب،د منځګړیتوب اصول او پړاونه به وپیژنئ.


سوله، د سولې ګواښوونکي لاملونه او سوله جوړونه به وپیژنئ.

عدالت غوښتنه.

شخړه څه ته وايي؟

## CONFLICTشخړه

## PEACE سوله





## د شخړو مفهوم او پیژندنه

شخړه یا منازعه له عربي ژبې نزع څخه اخیستل شوی ده چې معنا یې اخ ودډب او لیدلوري اختلاف مانا ورکوي . په انګلیسي ژبه کې Conflict د شخړې او کشمکش په معنا ده او په پښتو ژبه کې شخړه ورته وایي چې د تاوتریخوالي په معنا ده.

## د شخړې اصطلاحي تعریف:

ـ هغه څه چې دیوې موضوع په اړه د دوه بیلا بیلو فکرونو له ټکر وروسته رامنځته کیږي
ـ شخړه هغه حالت دی چې د یوې ډلې پرمختګ د بلې ډلې له لوري محدودیږي
ـ د سره تړلو غاړو د ګټو ټکر
ـ د ښکیلو خواو د موخو نه یووالی
ـ شخړه د دوو خواوو مخامخ کیدل دي چې هره ډله د خپلو شخصي ګټې او اهدافو لپاره په کار وړي او هره ډله خپل فکر او فیصله پر مقابل طرف باندې لوړه او برلاسي بولي.

**د شخړې یو بل تعریف**: شخړه د هغه سلوک څخه عبارت ده چې د انسان له دفاعي حس نه سرچینه اخلي او د یو بل انسان پر وړاندې، چې ورسره همغږی نه دی کاروي یې.

**دا تعریف د لاندې مهمو ټکو لرونکی دی:**

- د شخړې ماهیت انځوروي
- دا څرګندوي، چې شخړه د انسان له سلوک سره اړیکه لري.
- دا هم څرګندوي چې شخړه له هغه چا سره کیږي چې ور سره همغږی نه دی.
- دا تعریف دا هم څرګندوي چې شخړه یو طبعي امر دی او د انسان د دفاعي حس نه سرچینه اخلي او هغه وخت ناطبعي حالت ته دورمي چې له طبیعي حالت نه ووځي.
- دا هم څرګندوي چې شخړه د انسان له دننه نه خړوبیږي او چې دا پخپله یو واقیعت دی.

## ○ د شخړې کچه:

دا چې د شخړې کچه د شخړې په کمولو کې مرسته کوي باید معلومې شي شخړه په مختلفو کچو رامنځته کیږي

- **د یو فرد په کچه**

اداري کارمند، زوی او پلار، ښځه او خاوند، مور او زوی، وروڼه،خویندې د کورنۍ نور غړي ...

- **د یوې ډلې په کچه**

ادارو تر منځ، د کورنیو تر منځ، د کلیو تر منځ، د قومونو تر منځ ...

- **او د یو هیواد په کچه رامنځته کیږي.**

د دوو هیوادونو تر منځ، د ګروپي هیوادونو تر منځ ...

## ○ د شخړې ریښې:

د شخړې ریښې چې مختلف اړخونه لري

- **کلتوري:** هر کله چې وګړي یا ډله داسې تصور وکړي، چې فرهنګ او نور ارزښتونه یې له ګواښ سره مخ شي.
- **دیني او مذهبي:** دیني او مذهبي شخړې د خپل ارزښت په دلیل سره له شخړو څخه دي چې مهارول یې اسان نه بریښي، په ځانګړي توګه هغه وخت چې مقدساتو ته یې سپکاوی شوی وي.

- **احساساتي:** احساسات په حقیقت کې هغه غبرګونونه دي، چې وګړي یې د رفتارونو، اوضاوعو او احوالو پر وړاندې له ځانه ښیي.که دغه احساسات کنترول نکړل شي، زیات وخت د شخړو سبب کیږي.

- **بشري اړتیاوې:** کاناډایي عالم ورن نیوفیلډ ریدیکاب په دې نظر دی، چې د شخړو د رامنځته کیدو اصلي ریښه بشري اړتیاوې(Human Needs)دي.

انساني اړتیاوې د پوره کیدو له لپاره ځینې غوښتنې رامنځته کیږي، چې دغه غوښتنې د مقابل اړخ له خوا د نه منلو په وخت کې د شخړو سبب کیږي.

۱ـ لمړنې اړتیاوې لکه: اوبه، ډوډی، استوګنځی...

۲ـ امنیت ته اړتیا

۳ـ ټولنیزې اړتیاوې لکه مینه، ربښتینولي او باور

۴ـ د نفس احترام، عزت، او منلو ته اړتیا

۵ـ ځان مشهورتیا ته اړتیا لکه نوښت...

**بې عدالتي:** د ټولنې وګړي تل د هغه شیانو د لاسته راوړلو غوښتونکي دي، چې مستحق یې دي.نو د خلکو تر منځ ناعادلانه او تبعیض امیزه چلند په یوه ټولنه کې د شخړو ریښه ګڼلی شو.

- **عامه اقتدار (ټولنیز جوړښت):** کله چې د ټولنې د ننه کې د وګړو ترمنځ واکونه او مکلفیتونه په عادلانه ډوله ویشل شوي نه وي او دولتي بنسټونه د خلکو په وړاندې یو ډول دریځ نه لري نو د شخړو د رامنځته کیدو سبب کیدای شي

## د شخړې پړاوونه

- **له شخړې مخکې پړاو:** هغه پړاو چې شخړې ته زمینه سازي پکې کیږي .
- **د تکر پړاو:** چې ذهني شخړه ورو ورو د عملي غبرګونونو په توګه ځان ځرګندوي.
- **بحران پړاو:** شخړه شدید شکل غوره کوي او فزیکي ګزارونه پکې رامنځته کیږي.
- **د پایلې پړاو:** د تاوتریخوالي د اوج پړاو دی چې شخړه عملي بڼه غوره کوي.
- **د شخړې څخه وروسته پړاو:** هغه پړاو چې شخړه پای ته رسیدلي وي او د بیا اړیکو ټینګولو اقدام کیږي.

## د شخړې تحلیل

فیشر په دې اند دی، چې د شخړې تحلیل له بیلابیلو زاویو څخه د شخړې د حقیقت پوهاوي او عملي ارزونې بهیر دی.

## د شخړې تحلیل له موږ سره څه مرسته کوي؟

- چې له شخړو پوره معلومات ولرو
- د هغې علتونه، لاملونه او سببونه وپیژنو
- د شخړې بیلابیل اړخونه او کچې معلومې کړو
- د شخړې ښکیلې خواوې او مداخله کوونکې اړخونه معلوم کړو
- کولای شو چې شخړه په ښه ډول مدیریت کړو
- په دې وتوانیږو چې د شخړې د لوریو تر منځ ګډ پوهاوی رامنځته کړو

### ○ د شخړو مثبت او منفي اړخونه

**د شخړې منفي اړخونه:**

**د شخړې مثبت اړخونه :**



# شخړه د شریعت له نظره

له قرآن کریم او احادیثو نه دا ثابتیږي چې کله د دوه کسانو یا دوو ډلو تر منځ شخړه وشي نو د هغوی تر منځ د سولې او د روغې کولو کوشش باید وکړی شي.د سولې او جوړې صحیحه طریقه داده چې سوله کوونکی د حالاتو صحیح معلومات تر لاسه کړي.
د شخړې اصلي وجوهات ولټوي او د حق د ادا کولو کوشش د وکړي.
تر څو د نزاع او شخړې اصلي وجه معلومه شي او د دواړو خواو تر منځ سوله وشي.

- د قرآن کریم سورت الحجرات ۹ نمبر سورت

ژباړه: که چیرې د مسلمانانو دوه ډلې پخپلو کې شخړه وکړي نو د هغوی تر منځ اصلاح او روغه وکړئ که چیرې د اصلاح نه وروسته له هغوی نه یوه ډله په بلې ډلې باندې زیاتی وکړي(شخړه بند نه کړي) نو له هغه ډلې سره وجنګیږی چې تیری کوي تردې پورې چې د الله تعالې حکم ته رجوع وکړي.

- په قران کريم کې ايات شريف دى.
تاسې له الله تعالىه وويرېږئ او خپل حالات صحيح کړئ( چې پخپلو کې حسد او بعض پاتې نشي)او د الله تعالىه او د هغه د رسول اطاعت وکړئ که تاسې مومنان يئ


(فاتقوا الله واصلحوا ذات بينكم )حضرت مولانا مفتي محمد شفيع د ذکر شوي ايات په تفسير کې ليکي
د خلکو د خپل منځي اتفاق او اتحاد **بنياد تقوى** او له الله تعالىه نه ويره ده.

الله تعالىه فرمايي( واصلحوا ذات بينكم) يعني د تقوى په ذريعه خپل منځي تعلقات او اړيکې اصلاح کړئ

له حضرت انس رض ځخه روایت دی هغه وایي چې رسول اللهؐ(ص) وفرمایل ته له خپل ورور سره مرسته وکړه که هغه ظالم وي یا مظلوم، یو شخص پوښتنه وکړه چې د ظالم سره څنګه مرسته وکړم، رسول اللهؐ(ص) وفرمایل ته هغه له ظلم نه منع کړه هغه سره ستا همدغه مرسته ده .

په حلاصة التفسیر کې چې حضرت تهانوي صاحب رحمه الله د صلح کولو لپاره د کومو خبرو په طرف اشاره کړیده هغه ډیره ضروري ده څرنګه چې په چا ناحقه تور لګول او د هغه بدنامول جرم دی همداسې د چا په غلطۍ او جرم سترګې پټول هم لوی جرم دی.

په یو حدیث شریف کې دی( افضل الصدقة اصلاح ذات البین) غوره صدقه په خپلو کې سوله او روغه جوړه کول دي.




○ **شخړه څه وخت رامنځته کیږي؟**

**- شخړه هغه وخت منځ ته راځي چې پر یو شي او یا مود**

**د دوو ډلو تر منځ جوړجاړی رانشي او خپله هدف ته ونه**

**په معاصره پېړۍ کې د شخړو د حل مخینه**

د لمړي او دوهمې جګړې پیښدل چې میلیونونه انسانان پکې ووژل شول، بې ځایه شول
او ویجاړۍ رامنځته شوې بنسټونه د ته وهڅول چې د سولې د مطالعې په اړه فکر وکړي
نو دا فکر رامنځته شو چې یو کوچنی ټکان کولای شي ستر ناورین رامنځته کړي.
نو کله هم چې دوهمه نړیواله جګړه پای  ته ورسیده د جګړې نتیجه څرګنده شوه نو د
سولې فکر پراخ شو ختا د پوهنتون په درسي محول کې شامله شوه او نوري ځانګړې
اداري ورته تشکیل شوې

## د شخړې حل لارې:

د شخړې په اړه ټول پوهیږو، اما لږ خلک موجود دي، چې د خیر او ښیګڼې فکر ور سره موجود وي. زیات خلک ددې موضوع څخه په تیښته کې دي او د حق او حقیقت څخه ډیره فاصله نیسي دا ځکه چې د دوی مادي او اقتصادي ګټه پکې نه وي.

بلاخره دا موضوع په شخړه بدلیږي کوشش کوو چې له شخړې لرې ووسو یا ور سره مقاومت وکړو مګر شخړه زموږ منځ ته راځي تر څو موږ ښکار کړي نو ددې پرځای چې شخړه ناچیزه وبولو باید هغه درک کړو او مخه یې ونیسو. نو موقع پیدا کیږي چې انکشاف، مثبت تغیر او روابط ټینګ شي.

شخره هغه وخت مضره تمامیدای شي چې ناچیزه وبلل شي.

- **منځګړیتوب**

د شخړو د مخنیوي لپاره یوه اغیزناکه لار منیګړیتوب هم دی.

ـ منځګړیتوب په لغات کې د دوه یا څو کسانو تر منځ روغه جوړه ده خو په اصطلاح کې ورته ګڼ شمیرتعریفونه شوي دي.

د مایکل مور په باور( منځګړیتوب په شخړه کې د ښکیلو خواو موافقې ته د رسیدو لپاره د یوې بې پرې ډلې، چې د واکمنې ډلې په څېر واک ونه لري له هغو څخه عبارت دی).

- منځګړی څوک دی؟

منځګړی یو درېیمګړی(حکمي یا حقیقي) شخص دی، چې د شخړې د ښکیلو خواو په عوښتنه د هغوی د شخړې د عادلانه هوارې لپاره هڅه کوي.



## د منځګړیتوب اصول

- ناپلوي
- د منځګړیتوب د رازونو ساتل
- لېوالتیا
- د اوریدو پوهه
- د پوښتنو کولو پوهه، د شننې پو هه او لنډولو پو هه لرل

## د منځګړیتوب پړاوونه

- د منځګړي د پیل خبرې
- د ښکیلو خواو خبرې
- د شخړې د بنسټیزو ټکو مالومول
- د ګټو او حللارو موندل
- د حللارو او توافق د ټکو غوره کول
- د تړون چمتو کول او لاسلیکول

## د ټولنیزو شخړو د هوارولو د بهیر مرحلې

وړاندې تر دې چې د شخړو پر حل لارو باندې بحث وشي؛ دلته هڅه کوو چې له هغه مراحلو او ګامونو لنډه یادونه وکړو کوم چې د هرې شخړې د هر ډول حل لارې پر مهال باید په پام کې ونیول شي:

**لومړۍ مرحله – د شخړې تشخیص او تعلیل:** د شخړو د هوارې په موخه د ستونزې تشخیص تر ټولو مهم او بنسټیز اقدام دی. په دې مرحله کې باید ستونزه تشخیص او عوامل یې په دقیقه توګه و پیژندل شي.

**دوهمه مرحله – د شخړې په اړه د کره او باور وړ معلوماتو او شواهدو را غونډول:** په دې مرحله کې باید هڅه وشي چې د شخړې د ښکیلو اړخونو له پاسه د شخړې په محیط کې شته هغه معلومات او اطلاعات چې د شخړې دقیقه پیژندنه آسانه کوي ترلاسه شي.

**دریمه مرحله ـ د حل لارې موندل:** د ستونزې له تشخیص او بې پرې او دقیقو معلوماتو له راټولولو او شننې وروسته باید د شخړې لپار محیط او ټولنیزو عواملو ته په پام سره مناسبه د حل لاره و موندل شي.

**څلورمه مرحله:** د شخړې لپاره ټاکل شوې حل لاره ښکیلو اړخونو ته د منلو په پار وړاندې کیدل.

**پنځمه مرحله:** د حل لارې له عملي کیدو څخه ډاډ ترلاسه کول.

## د ټولنيزو شخړو د حل او فصل لپاره لاندې ټکي مهم دي چې بايد د دريېمګړو يا سوله کونکو له لوري په پام کې ونيول شي:

- د منازعې د دواړو اړخونو دقيق پيژندل؛
- د شخړې د سوليېز حل او فصل لپاره د طرفينو رضايت ترلاسه کول؛
- د شخړې د اړخونو سره پيوسته اړيکې ساتل؛
- د طرفينو ترمنځ د شخړې تر هواري او وروستنۍ پريکړې وړاندي د هغوی ذهني جوړول او چمتو کول؛
- د سولې منځته راغلی فرصت غنيمت ګڼل او ورڅخه د اغيزمنې استفادې لپاره اعظمي هڅې کول؛ ځکه ممکن ورته فرصت بيا ترلاسه نشي او د ضياع له کبله يې شخړه نوره هم لويه او په ناوړه پايلو سبب شي؛
- د پريکړه کونکو قاطع دريځ او له خپلې پريکړې دفاع.
- پر عدالت ټينګار کول؛

## د ټولنیزو شخړو د حل او فصل روشونه

دشخړو لپاره مختلفي حل لارې او د هوارې روشونه پیژندل شوي دي اما داچې موږ په ټولنیزو شخړو باندې بحث لرو له همدې کبله پر هغه روشونو چې د ټولنیزو شخړو د هوارې او حل او فصل لپاره ترې کار اخیستل کیږي او په افغانستان کې رواج لري، تر غور لاندې نیسو:

**لومړی – مذاکره/ افهام او تفهیم:** انسان د یو عاقل موجود په توګه د هرې شخړې پر مهال باید هڅه وکړي ترڅو له مقابل اړخ سره د تفاهم او پوهیدنې لاره ونیسي ترڅو شخړه په لومړنیو مراحلو کې حل او زیات انکشاف ونکړي. افهام او تفهیم د خپلو غوښتنو د رسولو او د نورو د غوښتنو د پوهیدلو او جوړجاړي ته د رسیدلو تر ټولو عامه او اغیزمنه طریقه ده او له دې لارې ښکیل اړخونه ژر یو بل درک کولای شي، د شخړې عوامل او پټ اړخونه ډاګیزه کیږي او د مسئلې په اړه واحد دریځ ته رسیدل آسانه کیږي. په دې روش کې معمولاً د شخړې اړخونه له کومې واسطې او منځګړیتوب پرته او یا هم ممکن د کوم دریېمګړي په شتون کې یو له بله مخامخ خبرې کوي او هڅه کوي شخړې ته د پای ټکی کیږدي.



# د شخړې حل لارې

ګروپي کار



## تاوتريخوالی او د هغې ډولونه

منازعه يا شخړه د نظر اختلاف يا د يوې مشخصې او معلومې
موخې پر سر د توافق نشتوالي ته وايي، چې يوه طبيعي او مـ
کوونکي چاره ده، مګر تاوتريخوالی د شخړې پرمختللې بڼه ده

## د ګالتونګ له نظره تاوتريخوالی

هر ډول رفتار، چې د قصد او ارادې له مخې تر سره شي او د رواني، فزيکي، مادي او
ټولنيزو زيانونو لامل شي تاوتريخوالی بلل کيږي.

## د تاوتریخوالي ډولونه

- **مستقیم یا د لیدو وړ تاوتریخوالی:** دغه تاوتریخوالی عیني اړخ لري او د ټولو لپاره روښانه او څرګند وي.چې زیانونه یې هم څرګند دي. لکه جرمونه، د پولیسو تاوتریخوالی، دولتي تاوتریخوالی، شخړې او داسې نور
- **د نه لیدو یا ساختاري تاوتریخوالی**

ساختاري تاوتریخوالی هغه دی چې رېښه یې ټولنیز نهادونه او موسسې دي، چې له دغو نهادونه او موسسې د ټولنې افراد له اساسي حقوقو څخه د محرومولو له طریقه ځوروي.

- **فرهنګي تاوتریخوالی**

فرهنګي تاوتریخوالی د فرهنګ اړخونو ته میلان لري، شوني ده چې مستقیم یا ساختاري تاوتریخوالی د مشروعیت لپاره وکارول شي، پدې اړخونو کې دین، ایدیولوژي، ژبه او هنر پکې شامل دي.

## د تاوتریخوالي لاملونه

- حسادت
- ناروا عقاید او باورونه
- رواني ناورغۍ
- اقتصادي ستونزې
- کبر او ځان ښودنه
- سترِیا او خسته ګي
- شهوت
- د احساساتو نه کنترول

# سوله:



ښتن تعالٰه سوله خیر بللي او داسې يې فرمايلي دي.(والصلح خير).
او همدا ډول د الهي دينونو په تګلاره کې د جنګ لپاره کوم ځای نشته،
خو چې کله نورې ټولې لارې وتړل شي او د عدالت د تامين لپاره بله
لاره نه وي.نو ددې لپاره چې ظالمان وتکول شي او د تيري کوونکي
غرور مات شي، د توري استعمال جواز پيدا کوي.

سوله په لغوي لحاظ نه يواځې د جګړې پای ته رسولو په معنا ده بلکې د سلامتيا، ښه والي، ښه نيت
درلودلو، اصلاح کولو او داسې نورو معناوو تعبيروونکي ده.
د سولې د اصطلاحي مانا په اړه بايد ووايو، هغه تړون دی چې د دوه لوريو تر منځ شخړه او
تاوتريخوالی پای ته رسوي.

## د سولې ګواښوونکي لاملونه

- د سولې ګواښوونکي فرهنګي او ټولنيز لاملونه
- د سولې ګواښوونکي رواني لاملونه
- د سولې ګواښوونکي اقتصادي لاملونه
- د سولې ګواښوونکي سياسي لاملونه
- د سولې ګواښوونکي فکري او ديني لاملونه



# سوله جوړونه یا د سولې ټینګښت (Peacebuilding )

یوه بله کلمه چې ډیره یادونه ترې کیږي (د سولې ټینګښت یا سوله جوړونه) ده.
په انګلیسي ژبه کې د سولې ټینګښت ته (Peacebuilding) وایي.

- هغه کړنلاره او پروګرامونه، چې د شخړو د ریښو موندلو او هواري او د تیرو ترېګنیو او زړه بدوالي د له منځه تلو او اوږدمهاله ټیکاو رامنځته کیدو سبب کیږي سوله جوړونه یا د سولې ټینګښت دی.
- سوله جوړونه هغه فعالیتونه دي، چې د شخړو او تاوتریخوالي ریښې وچوي او د تلپاتې سولې د رامنځته کیدو لپاره لاره هواروي.
- یا سوله جوړونه : د هغه مثبتو فعالیتونو تر سره کول دي چې پایله یې د جګړې پای او د سولې تړنګول وي.

## روغه جوړه

روغه جوړه او اشتي د لانجو او تاوتريخوالي د ختمولو یوه مهمه وسيله ده.
روغه جوړه د دې لپاره، چې کړکيچني او تاوتريخجنې اړيکې په دوستۍ د یو بل په زغملو او په مدني دوستۍ بدلې شي.

## د روغې جوړې ډولونه

- سياسي روغه جوړه
- فرهنګي روغه جوړه
- ټولنيزه روغه جوړه
- اقتصادي روغه جوړه






## ○ عدالت غوښتنه

په لغات کې بيلابيلې معناوې لري لکه:

- حق غوښتنه
- عدالت خواهي
- د يوچا په طرف خبرې کول.
- د يوې موخې ملاتړ کول.

عدالت غوښتنه هغه بهير دی چې يوه ډله فعاليت كوونكي هڅه كوي چې په عامه پاليسيو كې بدلون راشي او د ټولنې د بيوزلو او زيانمن شوو وګړو د ژوند د ښه والي لپاره كاروكړي.




یا په بل عبارت: عدالت غوښتنه پر هغو خلکو د نفوذ لاندې راوړلو

یو بهیر دی چې د پالیسی یا تګلارو جوړولو پریکړه کوي.

## د عدالت غوښتنې موخې:

- د تبعیض ټولو ډولونو ته ځواب وایي.
- د ډیرو خلکو ژوندانه ته ښه والی وربښي.
- اکثره هغه خلک تر موخې لاندې نیسي چې پالیسي جوړوونکي دي.
- خپل ځان او خلکو ته د مرستې وړتیا لوړوي.
- د خدماتي څانګې بهیر ته چټکتیا وربښي.

## عدالت غوښتنه د چا کار دی؟

- د ديني عــــلماء .
- عــــام وګړي .
- سياستوال .
- دولتي کارکوونکي.
- د خلکو استازي(وکيلان) .

## څرنګه کولای شو چې په اغیزمن ډول عدالت غوښتنه وکړو؟

هغه مهال دعدالت غوښتنې اړتیا احساس کیږي کله چې په ټولنه کې ستونزې موجود وي .

هغه ستونزې چې په ټولنه کې دعامو خلکو لکه ښځو، ماشومانو، کارګرانو او داسې نورو وګړو فعالیتونه تراغیزې لاندې راولي.

عدالت غوښتنه ددې لامل کیږي چې دزیانمنو شویو افرادو ستونزې رفع او حل شي چې دا دعدالت غوښتنې د ډلو د جوړیدوسبب هم ګرځی.

# پوبنتي??



# له پاملرنې مو مننه!